(c) ketabton.com: The Digital Library



# جینه

---

پـه مرګ به دواړه سره مړهٔ شو
ارمان مې دا دے چې به ګڼکښې روښتو شو نه

دَ مرګ هیڅ پته نهٔ لګي هیڅوک نهٔ دي خبر چې زهٔ به کله کوم ځائے او څهٔ رنګې مرم - مرګ ډیر بې اتباره څیز دے دَ مرګ دپاره دَ څهٔ نیټې دَ وخت او دَ عمر قید نشته - اوکهٔ شته نو هم انسان ترې نهٔ دے خبر مرګ یوه ناګهانې حادثه ده -

مرګ یو ناګهانې شرک دے چې
په چا راپرېوځي او خپلې ځونرې ښخې ورته په مرې ښخې کړي -
څو مره ماشومان په ماشوم څته
مرګ دَ لحد تورو خاورو ته او رسول
څو مره ښکلي ځوانان چې
دپلارانو دَ ملاتېر او دَ میندو دَ سترګو تور وُ
دَ مرګ نا ترسه څپیرې
دَ دنیا نه پورته کړل
څو مره پلاران او ترپېدل ؟
څو مره میندې بوړې شوې ؟
او څو مره تورې سرې کونډې شوې ؟

ګېډه نه‌ړشي نو هله .... ګني چې په ګېډه موړ وي نو په ځنګل کښې د ونې د سورې لاندې پښې ستړې یو خوا ته پروت وي، که دنیا ټپر پېږي دا تېرېږي نو غم غرض پرې نه کوي -

او انسان؟ انسان چې موړ شي نو داړل کوي -

انسان چې موړ شي نو ظالم شي -

انسان چې مالداره شي نو حرص ئې زیات شي - او د بل په مړۍ غلې کېدل ورته هم خپل حق ښکاري -

نو اے دوستو! زه تاسو نه دا تپوس کوم - تاسو ماله د دې خبرې جواب راکړئ چې که داسې انسان نه ګني شرمخ ښه نه شو داسې انسان ګني د حیوانیت د درجونه لاندې پرې نه وتو -

ولې پرې نه وتو - که داسې انسان نه حیوان - بلکه شرمخ چې کارئ د خپلې ګېډې د تنور د کولو د پاره د ژوندو حیوانانو او انسانانو داړل دي - که دغه شرمخ نه هم داسې حرصي انسان چې د خپل حرص د تندې سړولو د پاره د بل انسان په مړۍ چاړه راکاږي بدتر دے - پرې وتے او د نفرت جوګه دے - او دا لاځه کوئ - دا خبره به پرېږدو - بل مثال به درکړم بل حقیقت به درته په ګوته کړم -

تاسو ماته دا اووایئ چې سپی ترڅو پورې وارنه وي راوړلے نو سپي پرې باندې غم غرض کوي! - تاسو چرې لیدلي دي چې یو سپي چرې سپي ته لاره نیولې ده - یو سپي سپي ته ئې په بد نظر کتلي دي - د غسې هر یو ځناور به را واخلو - د هر یو ځناور مثال به مخکښې کېدو چې په دې حقله یو ځناور هم د مقررو حدونو نه

ړومبې کال د ګل شېر مور مړه شوه شمشېر کاکا کونډ شو - یو اځې شو،
د ژوند په لویه لاره تک خو یو لوی شوا خون و خو شمشېر کاکا د ګل شېر
په وجه د تنهایی احساس ځان ته نزدې نه پرېښودو - د ګل شېر
بچې شو - ماشومان شو، هغه د خپلو بچو سره مشغول شو - او
داسې مشغول شو چې پلار ترې نه هم هېر شو - پلار یو فالتو
څیز شو یوه بې کاره پرزه شوه - کله کله بهر د خپلې تنهایی
احساس ئې په سینې پورې نیولے و - د خپل ژوند نه خوشحاله نه و -
ځکه چې هغه خو خپلې ټولې خوشحالې اوس ګل شېر پورې غوټه
کړې وې - او ګل شېر د پلار نه بې پروا د ژوند په ډکې سکه
بې مهاره او بش روان و - دولت و جائیداد و - دومره جائیداد چې
ګل شېر پرې خانې کوله - دا جائیداد ګل شېر نه و پیدا کړے - دا
د شمشېر کاکا د سر خیرات و چې ګل شېر پرې خانې کوله - ګل شېر
خانې کوله او هغه پلار شمشېر کاکا په خپل کور - خپل جائیداد کښې
د بې ارزې ژوند تېرولو - هر څه ئې لیدل - د ګل شېر سلوک او رویې
ته ئې کتل خو په خوله ئې غبر نه کولو - ځکه چې ګل شېر د پر
نیاز بین و - دومره نیاز بین چې پلار ورته یوه خوله کیله قدر له
هم نه شوه کولے - خو د خپل نیاز بین زوی په بې رُخۍ او بې
پرواهۍ به هر وخت غمژن و - او چې د شپې به په کټ کښې
پرېوتو نو ټوله شپه به ئې په سترګو کښې تېره کړه -
ډېرو غمونو او فکرونو شمشېر کاکا د زړه په رنځ اخته کړو -
سالنډے ئې مدکرے شو - لاړو هغه لوړ ډنګ شمشېر کاکا په بوډ موډ

د هډوکو پنجره شوه ..... شپه ورځې ټوخي او د سینې خرنجارے او ورسره بلغم د شمشېر کاکا د ژوند ملګري شول او د پلار د سینې خرنجاري د بې واره ټوخي او بلغمونو نه کل شپه تنګ شوي وُ. او رښتیا خبره خو دا ده چې ژوي له اوس د پلار نه کوکه ورتله هغه نهٔ غوښتل چې د هغهٔ ماشومان دې نیکهٔ ته نژدې شي نو په دې وجه کل شپې په کور کښې یو خوا ته وړه غونډۍ کوټنۍ وه هغې کښې د پلار کټ وراچولو د روبو منګے یې ورته کېښودو او کټورے یې پرې سکور کړو. لاړو شمشېر کاکا په خپل کور کښې د ځان له دنیا خاوند شو. تنګه تړشه کوټنۍ ځان له یو خوا ته چې نهٔ پرې د چا لار وه او نهٔ به ورله څوک راتلل. ټول له ورځ ټوخے بلغمونه او تنهائي د هغهٔ ملګري وو. دغه یې کور شو، او په دغه کور کښې به د شته جائېداد خاوند. د شته ژوي پلار شمشېر شپه ورځې یو اځې پروت وُ.

او یوه ورځ چې د کل شپې زلموټے ژوي اسلم د نیکهٔ کوټنۍ ته راغلو نو شمشېر کاکا ځان ته را نژدې کړو. په تندي یې ښکل کړو او ورته یې او وے چې بچیه دا سر دې لږ زما په سینه کېږده. او هر کله چې اسلم د خپل نیکهٔ په سینه سر کېښودو نو شمشېر کاکا یې په ویښتو کښې ګوتې وهلې او د نیږے او ښکې یې د سترګو نه بهېدلې. د اوښکو بهیر د بابا د سترګو نه داروان وُ او چې اسلم سر راپورته کړو نو... "ته ولې ژاړې بابا یخني دې کېږي او درپېږه چې کمبل درله راوړم" ..... نه بچیه زما یخني نهٔ کېږي. زما څوګرې کېږي. زما په سینه کښې اور بلېږي.

زوے پلار ته په پښو پړوتو د پاره روان ؤ زوړنی سر -
ملامته ملامته چې د کوټې د دروازه ې لرې کړه نو په پلار
ور پړوتو .... دد بابا زهٔ معافي غواړم زهٔ بخښنه غواړم ما
او بخښه - زهٔ په خپلو کړو پښیمانه یم ما معاف کړه بابا ......
(ژاړي) دَ اوښکو سیلاب دَ ګل شپې دَ سترګو نه روان ؤ -
شمشیر کاکا خپل زوے خپلې سینې ته رانږدې کړو - دَ سر
ویښتو کښې ې ورله ګوتې وهلې -
دد دا ستا ویښته څو هم هغه رنګ پاسته دي بچیه .....
ستا دَدې ویښتو نه څو هم هغه رنګ خوږ خوږ بوئي راځي
لکه چې په وړوکوالي به ترې ختو - بچیه دَ مرګ نه مخکښې
مې دا ارمان ؤ چې تا یو ځل بیا خپلې سینې ته رانږدې کړم
او ستا دَ ویښتو دا مراوې خوشبوئې یو ځل بیا زما
په سپږمو ورننوځي - او زما زړهٔ ته آرام او سکون
ورسي - څو بچیه ته جوړ دوړ نا روزګاره وې دومره ناروزګاره
وې چې زما دا معمولي غوندې ارمان دې هم نهٔ شو پوره کولے -
... څو شکر دے چې ته راغلې - شکر دے چې ته زما دَ زړهٔ
ارمان پوره شو - اوس به زما ساه په قلار او سکون سره
روځي - خدائے دې خوشحاله لره توبه یاد دربانه ې اومه لږه -
دَ ژوند په خوږو موړ شې - دا سر دې لږ زما په سینه باندې
کیږده ګل شیره چې دا زړهٔ مې لږ په قلار شي - او زما روح به
آرام او اطمینان سره اوځي .... په دې کښې په شمشیر کاکا

# " سزا "

ورستے پیار وُ چرګانو کلے په سر راخستے وُ - جُماګل د چرګانو
پانګوته ورپیدل - څو اړخ ئې واړولو او مخ سرئې په
پرستن کښې راونغښتل - خدائے خبر چې څهٔ چل وُ
نن دهغهٔ زړهٔ پاسېدو ته نهٔ کېدو - نن دهغهٔ زړهٔ
وېل چې دا شپه نوره هم اوږده شي - دومره اوږده
شي چې د صبا کېدو ويره هډو ورکه شي - هغه د شپې
نه په ښتې کښې تخم شيندلے وُ په دې نيت چې سحر
وختي به پښے اوم ...... هغه ته پښے او شيندلے تخم
دوباره ياد وُو - څو بيا ئې هم پاسېدو ته زړهٔ نهٔ کېدو
.... سنهٔ ساعت تېر شو - د کوز کندي دجمات نه د بانګ
غږ ئې تر غوږو شو ..... د پړخوږ اواز وُ - دے د بانګ
د الفاظو په معنیٰ نهٔ پوهېدو - دے په دې نهٔ پوهېدو
چې دې بانګ کښې په څوانړهٔ څوب اودو د پاره کوم
پېغام ورولے شي - هرڅو کهٔ جُماګل د بانګ په معنو نهٔ
پوهېدو خو دهٔ له ئې نن د پړخوسند ورکړو - نن دَ سحر
بانګ دهٔ ته مرګ رايادکړو - دے ئې په دې ياندې پوهے
کړو چې دا دُنيا فاني ده او مرګ حق دے - دَ مرګ هيڅ وخت

را غلي دے تهول دهقانان را غلي دي فوراً حجرې ته را شه -

زمونږ تهول کلے ددغې اکي يو خان جاګير ؤ - او دَ کلي تهول

دهقانان دَدې اکي يو خان لکه چې غلامان وو ........

خان به کله کله زمونږ دَ کلي چکر لګولو - په خپل جاګير

به ګرځېده او دخپلو دهقانانو دَ حالاتو به ئې خان خبرولو -

دا اکي يو خان به چې زمونږ کلي ته را غلو نو دے به يو

سم کړې کټ کېنې لکه د فرعون کېناستو او تهولو دهقانانو

به په شنه منډه ددې خان دَ سلام دپاره خان حجرې ته

را رسولو او ګېر چاپېره به په مزکه ډېنو په سر ناست ؤ -

نن هم چې دا اکي يو خان کلي ته را غلو ... په کټ کېنې کېناستو -

خلق په يو ځو دَ سلام دپاره راوُ چلېدل او په مزکه ډېنو

په سر کېناسته نو خان ګېر چاپېره په خلقو يو نظر واچولو -

تهول را غلي وو - تهول دَ سلام دپاره حاضر شوي وُو خو....

جمعه ګل ... ؟ جمعه ګل په دې خلقو کېنې نهٔ ؤ - دَخان سترګې

دَ ډېرې غصې نه پړکې غوندې شوې - د نمبردار نه ئې

تپوس اوکړو چې جمعه ګل څهٔ شو ؟ هغه ورته وے چې

تخم ئې شيندلے دے دوه کيله ورته پاتې وو وے دا پهتم

نو درځم .... د خان طبيعت خته شو - په غوږونو ئې

دا خبره ښهٔ اونهٔ لګېده، دخان سره ئې اووے چې رما

نه دوه کيله تخم زيات اهم شو..... حکم ئې اوکړو

چې ورشئ لاس نيولے ئې راولئ ..... دوه کسان ښتې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمنې نه د سپېڅور د پېغور داغ د ټوپک د شپېلۍ نه به وټې ګولۍ والوځوم ځم چې د سپېڅورې په سرو وينو د خپلې لمنې دا تور داغ د تورو نه سور کړم .... سور داغ تک سور لکه سور ګلاب (خندا) شمشېر د کړکۍ او نفرت نه ډکه خندا اوکړه او لاړو د کوټې نه اووتو - د تيرو تک تور څادر په ټول کلي راخور وُ - يوه يو ګنوونکي خاموشي وه - لکه چې د کلي ټول خلق د مرګ په خوږه خوب اوده وُو - سپي هم ټوله شپه د غپېدو نه پس په بېهوسارو او د پلالې په سنګرونو کښې اوده وُو - شمشېر په تُند و تُندو قدمونو کوز کندې ته روان وُ - په زړه کښې يې د انتقام اور په قدم قدم لمبه کېدو - د زړه حرکت يې تېز کېدو - نبضونو يې ټوپونه وهل ساه يې لنډه لنډه کېده او چې څه وخت شمشېر خپل منزل ته ورنږدې شو - د سپېڅو د کور لويه دروازه ورته ښکاره شوه نو ده ټوپک د اوږې نه راکوز کړو - چارچېرې ورله ډک کړو چې ..... په دې کښې د نږدې جمات د منارو نه د لوئې الله د لويې کلمه الله اکبر په لوړ سپيکر کښې په ټول کلي کښې خوره شوه، مُلا د سحر په بانګ وېلو شروع اوکړه شمشېر پښه نيولې شو - خدائې خبر چې ولې نن د سحر بانګ د شمشېر په زړه کښې يو لوئې طوفان راپورته کړو - نن خو د سحر بانګ دغه دنيا بدله کړه ..... څومره خوږ بانګ دے څومره زړه راکښونکے

پخو دپاره به روزي لشم پېښ کوله - شکر دے په صورت
روغ يم شکر دے روغ رمټ يم - محنت مزدوري به کوم او حقه
حلاله روزي به پخو له راوړم - او اوس ...... ؟ اوس خُم چې
په جمات کښې لمونځ اوکړم او دلوئے خدائے نه بخښنه اوغواړم
شمشېر دَ سپڅوړي دکوټې نه واپس کېده وچې په دې کښې
هغه په قلبې پسې دروان دَ خپلې کوټې نه را اووتو او څه
وخت ئې پچې شمشېر ټوپک په لاس اولېدو نو پوئے شو چې
د شمشېر څه اراده دي - خو .... شمشېر زر ټوپک اوکړې ته
واچولو او ورمنډې ئې کړې - سپڅوړي ته ورتر غاړه وتو او
په سلګو کښې ئې ورته ټول قصه تېره کړه سپڅوړي
هم شمشېر له کلکه غاړه ورکړه او په رټو رټو ئې اوژړل...
قلبه ئې راستنه کړه - شمشېر ئې لاس نيولے کورته راوستو - او
پچې پڅه غرمه کېده نو پخ کړ په پولو پټو پړے اېښے وه.....
دَ سپڅوړي دَ مزکې نه ئې دَ شمشېر حصه بېلوله - او خلق....؟
خلق حق حېران وُو چې دا څه وو او څه اوشو - ؟
خوارے دو نو حېرانېدل ئې هم - دانسانانو په سينو کښې خدائے
پاک د غوښې زړونه پېدا کړي دي - دغه دَ غوښې زړونه
نرمېږے هم شي - دغه دَ غوښې زړونه پستېږے هم شي - په
دې زړونو کښې الله تعالیٰ مينه محبت هم پېدا کړي دي - خو
کاش پچې مونږ دَ غوښې په دغه پوټي کښې په خپل صبر او
خپلې حوصلې سره دَ مينې او محبت او دهٔ جذبات راويښ کړو

خوشحالیږ سو د شیرین ډولۍ راوړلې وه او بیا دوادۀ په شپه هغه ترتېره ما سخته پورې شیرین په جګړه کښې د دوستانو سره ټومره خوند تاک کپ لګولے وُ - او بیا مونږ هغه کورته په تلو مجبوره کړو - چې څه څوک یې ستا په انتظار کښې وي .... شیرین سُسکے غوندې شو او کورته روان شو - په ټُند و ټُند و قدمونو ..... د هغه کورته ډېره تادې وه - د هغۀ په زړۀ ډېرې خبرې وې چې جانان ته یې کول غوښتل - څۀ ګیلې هم وې او څۀ مانې هم - څۀ وعدې هم وې او څۀ لوظونه هم - ډېرو خبرو - ډېرو سوالونو او ډېرو ټپوسونو د هغه په زړۀ کښې دغ دغ جوړې کړے وُ - هم په دغه سوچونو کښې هم په دغه فکرونو کښې د جانان د دیدن خوږې تلوسې یې په زړۀ پورې جځنې نیولے روان وُ، چې شیرین خپل منزل ته ورنږدې شو - چې خپلې کوڅې ته ورنږدې شو - نو ناګهانه درې ډزې اوشوې - هاو په وړومبې ډز شیرین پرمخې راپرېوتو - جوړې د زړۀ په سر لګېدلے وُ - د هغه زړۀ په سر چې کوم د جانان د لیدو د پاره ناقراره وُ - چې کوم په دغه وخت کښې د مینې محبت د جذباتو ته لبرېز وُ، د هغه زړۀ په سر شیرین اولګېدو - او چې د ګُجرې خلق ورورسېدل نو هغه پوره آخرنۍ سلګۍ اووهلې او په دغه سلګۍ کښې هم د هغه په شونډو د جانان نوم وُ - ...... شیرین سا ورکړه - د زړۀ خبرې په زړۀ کښې پاتې شوې. نۀ یې د جانان مخ اولیدو او نۀ یې ورته د خپل زړۀ خبرې اوکړې ..... د شیرین مور لکه د لېونو لامنډې کړې - پلار یې سرتور سر

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چپې

لکه چې نن سیند بیا په غورزنګ ؤ - شل کاله وړاندې
چې کوم سیلاب راغلے ؤ او د کوم سیلاب یو چپې چې ملاله
د ځان سره راوړلې وه - لکه چې هغه سیلاب نن د هغې په
سینه کښې بهېدو او د سترګو نه ئې روان ؤ -

د دوو میاشتو ماشوم ناجوړه زوئے د ملالې په غېږ
کښې پروت ؤ ژړېدو - د ډېر ساعت نه ئې او چې سلګۍ
وهلې څو اوس داسې غلے شوے ښوندې ؤه ملاله نۀ د ځان
د حاله خبر وه او نۀ د زوئے د حاله - په مزکه ئې پړلت
وهلې وه او زوئے ورته په غېږ کښې پروت ؤ - د ملالې ګرېوان
پرانستے ؤ - بېبس سر - خېرنه ښځنه - داسې معلومېده چې
لکه د ملالې ګرېوان هغه ږول پرانستے وي - کوم چې د
سحره راسې د هغې په سینه کښې الوتو - خدائے خبر چې په
هغه خبره کښې څۀ وو کومه چې ګلدین نن سحر هغې ته
کړې وه - او کومه به چې کله هم هغه ملالې ته اوکړه -
نو د هغې زړۀ به ئې ناقراره کړو - د هغې دنیا به ئې تباه
کړه - باران - سیلۍ او طوفان به راغلو او د ملالې د
سترګو نه به روان شو - د ملالې قرار - صبر او هغه لږه

ډېره تسلّي کومه چې دَ ماشوم زوئ په وجه دهغې زړهٔ

ته وه. هغه هرڅهٔ به دَ سترګو په رپ کښې په طوفان

کښې لاهو شو. خو ګل دین دَ هرڅهٔ نه بې پرواه دَ افیمو

په نشه کښې نیم ویخ او نیم اوده وُ. هغه دهیڅ نه

نهٔ وُخبر. ګل دین موچي وُ. په کلي کښې یې دَ زوړو پېزار

مرمت کولو. دَ افیمو نشې دَ هغهٔ نه په ځوانه خوانۍ

کښې بوډا جوړ کړے وُ...... ملاله په پېغلتوب دَ

ګل دین د شکي طبیعت او سخت مزاجۍ نه خبر وه. او کله

کله به چې د کلي پېغلو دګل دین د سخت طبیعتۍ ذکر

ملالې ته اوکړو نو هغه به ورته مُسکۍ شوه او

جواب به یې ورکړو چې خېر دے دَ وادهٔ نه مخکښې هر

زلمے داسې وي او چې واده اوکړي نو بیا ...... بیایه

کهٔ خپرې هرڅهٔ سم شي ...... او دَ وادهٔ نه پس څهٔ

موده ګل دین سم دم وُ.. دَ ملالې سره یې ډېر ښهٔ تعلق

وُ خو رو رو هغه بیا په زړهٔ لاړ روان شو. سپکې سپورې

ستغې خبرې او رټل. هر وختې په نهٔ څهٔ خبره بدې

ردې و یِل دَ ګل دین عادت شو. او یوه ورځ خو یې چې

ملاله په نهٔ څهٔ خبره راګیره کړه او وې وهله نو دګل دین

په دې زیاتې دَ ملالې زړهٔ ته لویه صدمه اورسیده...

او بیا دا څهٔ یوه ورځ نهٔ وه بلکې وهل او ټکول دَ ملالې

تقدیر شو. دې ټولو نارامو ته ملالې غاړه اېښودلې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړه ړه کښې تشې کړې - پښتې ئې په نغري سوره کړه ....
او په څه ساعت پس چې ګل دین د ځبرې نه را غلو.... په
کټ کښې کښېناستو نو ملاله په مړو مړو قدمونو لاړه - پیالې
او چائے جوش ئې راوا خستل او ګل دین ته ئې په مخکښې کېښودل -
ګل دین پیالې دکوله او پیالې به ئې تشوله - ملالې په کښېنه
سترګه ګل دین ته کتل .... د هغې زړه غوښتل چې راپاسي او
د ګل دین د خولې نه پیالې راوُشوکوي او ورته اووايي چې
ګل دینه مه کوه .... دا څه کوې - دا چائے مه څښه دا چائے
چې په کومو پیسو کښې پیخې شوي دي هغه پیسې په تا حرام
دي - خو .... ملالې له به دومره زړه چا ورکړے وے - دا
تولې خبرې که د هغې زړه غوښتلے نو هم کولے نه وې ئې نه
شوې کنه .... د هغې په زړه یوه تیاره تله راوبله
راتله .... سوچ ئې کولو چې دا څه وُو او څه راپېښ
شو - دا نور غمونه کښي لږ وُو چې دا نوے غم مې د خپله لاسه
خپل ځان له راپیدا کړو .... ساک تري نه سیلۍ اوړے
وُ - ما شوم هم د لوږې دلاسه الون بلون کولو - په ژړا
ژړا ئې زړه ستړے شو - ګل دین د پر صبر اوکړو خو آخر
صبر ئې تمام شو - او په سختۍ سره ئې ملالې ته اووے ...
څه له ئې ژړه وې پیسې ورکړه کنه".... پیسې ؟ پیسې ورکړم
د څه په تره ورکړم .... دد سیني ته ئې واچوه کنه ؟ ....
په سینه کښې څه دي - تا چې کوم پیسې راوړلې وو هغه

دغه فریادونو خو عرش په لړزان کړے دے.

دغه د پلار د سترګو اوښکے خو کاڼي زړونه هم اوبهٔ اوبهٔ کوي اوتهٔ ......؟

تهٔ بیا هم غبر نهٔ کوې،

تهٔ بیا هم خاموشه شونډې پروت یې!

ګلا به خدائے ګواه دے چې تا خو به د ړړدو په سترګو کښې اوښکې نشوې لیدے.

خدائے ګواه دے چې تا به د نچیلې مور په تندي کښې د خفګان ګونجې نهٔ شوې لیدے.

تهٔ به د ړړدو پلارانو دپاره دادا وې

تهٔ خو به د ړړدو تورو سرو دپاره دلاسه وې

نو بیا اوس؟

اوس ولې دا سې غلے پروت یې

اوس دې ولې داسې د صبر څادر راغوستے دے؟

اے د پې غمی په خوابهٔ خوب اُودهٔ شهیده سرداړه پورته کړه او اوګوره چې غمونو او خفګانونو دې د مور په تندي کښې څهٔ څې په تول مخ کښې یې کندې کپرې جوړې کړې.

ستا خوږ پلار خو هم ستا غم په خپل ناتوان زړهٔ پورې ځنت نیولے دے. په هرڅا ستا ګمان کوي

د هرڅا په مخ کښې ستا نقشونه لټوي

خو ګلا به!

تښن و قد مونو د ښارنه کورته داروان وو - داسې معلومېده
لکه چې د ګلاب نن کورته ډېره تادي وه - خدائے خبر چې څه
چل وه خونن د ګلاب زړه څځه بې واره غوندې درزېده و - په
سوچونو او فکرونو کښې ورک ګلاب وسے چې څومره زر چې کېدے
شي چې کورته اورسم ...... او څه وخت چې د کور کښې شهید
ته راورسېده و نو ...... درې دوه دزې اوشوې درې
ګولئ د تماچې د شپېلئ نه راووتے، او د ګلاب په سینه کښې
ښخې شوې ..... ګلاب راپرېوتو ...... ګلاب یو څو لتې
او تکولې - ګلاب یو څو فریادونه اوکړل - او بیا .... بیا د
مور نیازبین زوئے یوه سلګئ اووهله او د همیش د پاره
غلے شو - ..... کلي ته خبر لاړو - خلق په یو ځو راوچلېدل -
ټول راغلل - وارۀ - زاړۀ ښځې او سړي ټول راغلل .....
په دغه ښځو کښې یوه د ګلاب مور هم وه - دغه مور سرتور
سر او پښې آبله پښې داسې کونتې را روانه وه لکه چې د ملا
تیر ئې مات شوے وي ..... او واقعي چې د ګلاب د مور د
ملا تیر د تماچې د ډېرو ګولو درې ځاینه چپ چور کړے وه ....
مور راغله - خپل نیازبین زوئے ئې چې په وینو کښې ککړ
اولید و نو ...... رونو هغه نقشه زۀ نشم بیانولے داسې
الفاظ زما سره نشته چې زۀ د ګلاب د مور د لېونتوب حالت پکښې
احاطه کړم - ډېره دردناکه موقعه وه ډېره بوګنوونکے لمحه
وه - ...... د ګلاب مور لکه د لېونو بې واره او بې اختیاره چغې

دمات څټ نه چاپېره کړو، زما په خیال چې د ارومال یې سور ساتلی وهٔ، چې د وادهٔ د ښکرېزو په شپه به پرې احمد له پټه کوته ترې - د احمد مور هم زوی ته د وادهٔ جوړه وا غوسټوله او د وادهٔ توله او ګنګه یې ورته په سر کړل - احمد په کټ کښې پروت وهٔ - په مخ باندې یې د زلمې توب ځښې نښانې څرګندې ښکارېدې -

دوښې د احمد مور او خوېندو چې په دغه ساعت، په دغه وخت څهٔ کړي دي هغه نقشه زهٔ تاسو ته نشم بیانولے - الله دې احمد او ځښې ..... زهٔ منم چې هغه قاتل وه، خو د انسان نه په غصه کښې تل داسې حرکتونه کېږي چې بیا په پښېمانه وي - الله دې کلاب هم او ځښې ځکه چې هغه شهید وهٔ،

خو اے دوښې! اے د ځوانئ په مینه مستو دوښې - اے د غفلت په خوب اوده دوښې د خدائے خاطر او کړئ چې لږ ساړهٔ ځورئ - لږ د حوصلې نه کار اخلئ، د انسان وژنل د انسان وجل کهٔ هر څو انسان دي خو انجام یې ډېر عبرتناک دے - د داسې عبرتناک مرګ نه دې الله تعالیٰ هر مسلمان ساتي - را شئ په دې خپلو زړونو کښې مینه محبت را پیدا کړئ، د انسان سره مینه او کړئ چې خدائے در سره مینه او کړي چې دین او دنیا دواړه موخائسته شي -

عالمه یوتوسل زادینړئ

دنیا فاني ده مېلمانهٔ دي صورتونه

شو - چې تمرخېل مخ د تاترې د غرنه د پناه کولو د پاره په تُندې
تُندې مخ په قبلې روان وُه - مارغان او کارغان په بېړه خپلو
خپلو جالوته په الوت وو الغاؤ تلغاؤ ئې جوړ کړے وُه - د مارغانو
په دغه الغاؤ تلغاؤ کښې ملوک خان د جوارو د پټې نه د مېخ په لاس را ووتو -
په څولو کښې جب جُوب وُه - په تندې ئې لاس کېښنو تمر پرې پوه نه
ته ئې اوکتل - خدائے خبر چې څهٔ چل وُه نن ملوک خان ډېر
ستړے ستړے وُه - په درنو قدمونو د پټې نه را اووتو - لاړو د
لختې په غاړه کښېناستو، اودس چار اندام ئې اوکړو - او هم د
جوارو په پوله ئې د ماښام د مونځ نیت اوتړلو - خدائے خبر چې
څهٔ چل وو څو نن ملوک خان په مونځ کښې د خپل خدائے سره په
خبرو کښې داسې ورک وُه چې ډېر وخت ئې وانخستو - او د مونځ نه
پس ئې يوه لنډه شان دُعا اوکړه ... " خدايا ايمان مې نصيب
کړې " لاسونه ئې په مخ راښکل او نيغ کورته را روان شو - خدائے
خبر چې نن د هغهٔ کورته ولې داسې تادي ده - ولې ئې ماشوم زوئے
سېفور داسې ډېر په زړهٔ رااووريدو - لکه چې ډېره موده شوې
وي چې خپل نياز بين زوئے ئې نهٔ وي ليدلے - په زړهٔ کښې ئې
د سېفور سره خبرې کولې را روان وُه او چې د شهيد کنډاؤ نه
را وُوړيدو نو ناګهانه د پوددل خان د تمانچې د نلي نه سرې ګولۍ
که ... ي لمبې اووتې او د ملوک خان په سينه کښې يخې شوې -
ګولۍ يخې شوې او ملوک خان هم يخ شو - هيڅ ئې او نهٔ وے -
چف ... ر له ئې د خولې نه او نهٔ وته صرف دومره قدر له ئې اووے

(c) ketabton.com: The Digital Library



اواز او نهٔ ز غملے شو .... مور بې هوښه ، دَ ځان د حاله بې خبره
کوره پرته وه ، او پلار سر تور سر او پښې ایله پښې دخپل زوئے
دکټو دپاره په منډه را خلاص وه .... رونو هغه نقشه درته نشم
بیانولے - دَ انسان زړهٔ دد غه نقشې د لیدو او اوریدو توان
نهٔ لري - لاړو دَ احمد د سترګو تور د ټول عمر دپاره جدا شو...
شهید خاورو ته او سپارلے شو.... مور ډېرې و پناګانې وکړې ....
ډېرې چغې او سورې ئې اووهلې - خو مړي په ژړا چرې نهٔ دي
ژوندي شوي - دَ احمد د زړهٔ دنیا وړانه شوه ، دآفتاب دَ
سور د زړهٔ دنیا ویجاړه شوه .... چا ویجاړه کړه ؟ .... دَ تهرک
دیو د ډرائیور لږې غونډې بې احتیاطۍ ..... د تهرک د ډرائیور
لږ غونډې غفلت یو کور وران کړو .... دَ یو پلار د ملا تیر ئې
مات کړو .... د یو مور دَ زړهٔ په سرګښې ئې زخم جوړ کړو.....
څومره کورونه دَ تهرکونو او لارو د ډرائیورانو وران کړل.... څومره
کلونه ئې اوړژول ..... څومره کلي ئې د خاورو سره خاورې کړې
...... اے رونو ولې ! .... دا ولې داسې کوئ .... دا ولې دَ زړونو
آزارونه اخلئ .... دا ولې میاندې بورې کوئ پلاران ژړوئ ....
دا ولې تورسرې کنډه وئ .... دا ولې دَ تور سرو خونې ورانوئ...
مهٔ کوئ رونو مهٔ کوئ - اے دَ تهرکونو او بسونو خاوندانو دَ
خدائے خاطر اوکړئ .... لږ روښئ لږ په قلار شئ - داسې په هوا
مهٔ الوځئ .... د خپلې لږې غونډې فائدې دپاره تاسو څومره
لوئے جرمونه کوئ .... داسې جُرمونه چې دَ معاف کولو نهٔ دي......

